

# طالباني سانسور

لکه چې خبرياست د طالبانو حکومت کې د لوړو زدکړو وزارت له پوهنتونونو د "حنفي فقهې خلاف" کتابونو راټولولو امر کړی دئ . (۲۲ ډيسمبر ۲۰۲۳)

دوی زياتوی چې "ټول هغه کتابونه چې د حنفي فقهې خلاف، سياسي او عقيدوي مشکلات رامنځته کوي له کتابخونو دې لېرې او پر ځای يې د نبوي سيرت کتابونه ځای پر ځای شي" .

دغه ليک چې د طالبانو حکومت د دعوت او ارشاد رياست مشر شکرالله وحدت لاسليک کړی، خصوصي پوهنتونو او د لوړو زدکړو موسسو ته سپارښتنه کوي چې د نويو کتابونو فهرست يا نوملړ دې له وړاندې دوی سره شريک کړي.

سانسـور څه ته وايي؟

سانسور د وينا، عامه اړيکو، او نورو معلوماتو منع کولو يا حذف کولو ته ويل کېږي. دا ممکن له دې امله ترسره شي چې دا ډول معلومات کېدای شي تر نيوکې لاندې، مضر، حساس يا "ځوروونکې" وي. سانسور کېدای شي د حکومت، خصوصي بنسټونو، يا نورو کنټرول کوونکو اشخاصو له خوا په لار واچول شي .
کېدای شي حکومتونه او خصوصي بنسټونه سانسور وکړي. نورې ډلې يا بنسټونه کولای شي د سانسور لپاره وړانديز او غوښتنې وکړي. عمومي سانسور لکه د وينا، کتاب، موسيقي، فلمونو او نورو هنري کارونو، مطبوعاتو، راديو، تلويزيون او انټرنيټ په بېلابېلو رسنيو کې واقع کېږي، لکه ملي امنيت، د فحشا کنټرول، د ماشومانو د فحشا کنټرول، او د کرکې وينا، څو د ماشومانو يا نورې زيان منوونکې ډلې خوندي، سياسي يا ديني نظرياتو رواجولو يا محدودلو، او له تهمت او سپکاوي څخه مخنيوی وکړي .(۱)
خو د دې عام تعريف معنا دا نه ده چې د فکر اوعقيدې آزادي دې محدوده او سانسور سئ.
يو خو په اوسنۍ پرمخ تللې نړۍ کې چې د انټرنيټ په مټ هرڅه هرځای ليدل او لوستل کيدای سی نو د پخوا په څير دسانسور پروسه کمزوری سوی او حتی ناممکن سوی ده.

د بلې خوا انسانان آزاد پیداسوی او د فکر او عقیدی آزادی یې د ملګرو ملتونو په منشورکې هم تضمین سوی ده.
په افغانستان کې د اوسني دیفکتو De facto رژیم په راتګ سره چې د ملګرو مالتونو د نړیوالو منل سوو پرنسیبونو څخه په سرغړوني سره د خلکو حقه حقوق ، د قانون د نه موجودیت له امله ، تر پښو لاندی سوی دي ، اوس یې بیا د کتابونو سانسور ته لاس اچولی او یوازی هغو کتابونو ته په کتابتون کې د پریښولو اجازه ورکوی چې د حنیفی فیقي سره سمون ولری.
په داسی حال کې چې زموږ په ګران هیواد کې لږ تر لږه په سلو کې کابو لسمه برخه غیر سونی مسلمانان یعنی شعیه ګان اوسیږئ همدارنګه سیکان او هندوان هم زموږ د هیواد اوسیدونکی او د خپلو مذهبی آزادیو دلرو مستحق دئ .
آیا هغوی حق نه لری چې په کتابتونو کې د خپلو دیني عقایدو مربوط کتابونه ولری ؟
حتی په خپله د سونی حنیفی فیقی پیروانو ته هم دا لازمه ده چې د نورو مذهبونو. او ادیانو په هکله معلومات ولری . تاسو وګوری د نړی ستر اسلامی عالمان او د حنیفی فقی پیروانان هم د نورو ادیانو په هکله د زیاتو معلوماتونو څښتنان دئ چې د اړتیا په صورت کې په خپلو بیانونو کې خپلو خلکو ته د نور ادیانو په پرتله د حنیفی فیقی د حقانیت د ثبوت ادعا او یادونه کوی .
د بیلګی په توګه ډاکتر ذاکر نایک تل د خلکو ډول ډول پوښتونو ته ځکه ښه ځوابونه ورکولای سی چې د نورو مذاهبو او ادیانو څخه پراخ معومات لری.
نو که زموږ مسلمان ولس د هر اړخیزه دینی ، مذهبی اومدنی علومو د زدکړو د پراخی نړی څخه بې برخی او یوازی د حنیفی فیقی په تنګ چوکاټ کې محدود پاته سی ، دا به نه یوازی دا چې د دوی په حق کې بیله شکه، ستره جفا وی بلکی د هیواد اقتصادی او فرهنګی ودي او پرمختیا ته هم ستر زیان رسوئ.
دی کې شک نشته چې مطلقه او بې بندوباره آزادی د نړی په هیڅ ګوټ کې نه شی عملی کیدای
خو د سانسور لپاره هم ټاکلی چوکاټ موجو وی چې دا بیا په بیالا بیلوهیوادونو کې په ډول ډول طریقو سره د عمل جامه اغوندي.
د بیلګی په توګه په ډنمارک کې چې د مطبوعاتو آزادی (ytringfrihed)د قانون په چوکاټ کې (اساسی قانون ۷۷ ماده) تضمین سوی ده .
بیا هم د هلکانو سره د جنسی اړیکو عکسونه او تبلغات یا هم د راسیزم یا نژادی تو پیر مسایلو ته لمن وهونکی فعالیتونه او تبلیغات منع او سانسور کیږی.

د سانسور ډولونه:

سانسور ډیر ډولونه لری چې تر ټولو عام یې په لاندی ډول دئ:
•اخلاقي سانسور د هغو موادو حذف دی چې فحش وي یا له اخلاقي اړخه په بل ډول تر پوښتنې لاندې راشي.
د بېلګې په ډول فحش فلمونه ډېری د دې منطق پر بنسټ سانسور کېږي چې په ځانګړي توګه د ماشومانو فحشا فلمونه د نړۍ په ډېری قضايي نظامونو کې ناقانونه او سانسور دي(2)

•د ديني سانسور پر بنسټ هغه مواد چې د يو ځانګړي دين له خوا د نيوکې وړ ګڼل کېږي له منځه وړل کېږي.
په دې ډول سانسور کې ډېری وختونه یو مسلط دين په یو غیر مسلط دين محدودیتونه راولي. په بله وينا، يو دين د بل دين کارونه ممکن له دې امله محدود کړي چې فکر وکړي دا ډول منځپانګې د هغه دين لپاره مناسبې نه دي .

•

پوځي سانسور له دښمن څخه د پوځي استخباراتو او تاکتیکونو محرم او لرې ساتل دي. دا ډول سانسور د جاسوسۍ د مخنیوي لپاره کارول کیږي.

•سیاسي سانسور د حکومتونو له خوا له خپلو اتباعو څخه د معلوماتو د محرم ساتلو په و خت کې پېښیږي. دا ډول سانسور ډېری وخت د خلکو د کنټرول لپاره کیږي او د هغه ازاد بیان مخه نیسي چې ممکن بغاوت رامنځ ته کړي .

•شرکتي سانسور هغه بهیر دی چې له مخې یې ایډیټوران یا تصحیح کوونکي په سازماني رسنۍ کې لاس وهنه کوي څو د هغو معلوماتو خپرول محدود کړي چې د دوی سوداګرۍ یا سوداګریزو شریکانو په اړه منفي وي، یا له دې امله لاس وهنه کوي چې خلکو ته د بدیلو وړاندیزونو د رسولو مخنیوی وکړي(3)

•

که څه هم پورتنی ډول سانسورونه او بندیزونه په یوه یا بل شکل توجه کیږی خو له بده مرغه په اوسنی نړۍ کې ډېر ستر هیوادونه چې ځانونو د ډموکراسی او د بیان د آزادی بنسټ ایښودونکی او اتلان ګڼي ، بیاهم د خپلو ګټو د تأمین لپاره د ملګرو ملتونو د منل سوو مثاقونو او اصولو څخه په سر غړونی سره د بیان او مطبوعاتو آزادی په عمل کې نه پلی کوی .

د بیلګې په توګه موږ وینو چې د اوکراین د جګړې ښکیلې دواړې خواوی یو د بل مطبوعات سانسوروی او نه پرېږدی چې د بیان د آزادی د منل سوی اصل مطابق خلک وکړای سی چې د دواړو خواوو مطبوعاتوته رسیدګی ولری ، څو د مسایلو په هکله خپله ، آزاد قاضاوت وکړای سئ.

د سانسور تاریخ ته یو ځغلنده نظر:

له میلاد مخکې په 399 کال کې یوناني فیلسوف سقراط، په داسې حال کې چې د یوناني دولت له خوا د هغه د فلسفي زدکړو سانسور کولو هڅو په مقابل کې سرغړونه کوله، د اتن ځوانانو په فساد تورن کړ او د هملاک hemlockزهرو څښلو سره په مرګ محکوم شو .

د سقراط د محکومیت جزئیات د افلاطون له خوا په لاندې ډول لیکل شوي دي. سقراط له میلاد مخکې په ۳۹۹ کال کې محکمې ته یوړل شو او وروسته د اتن د ځوانانو ذهنونو فاسدولو او بې ایمانۍ) اسبیه، "asebeiaد دولت په خدایانو عقیده نه درلودلو ("له امله مجرم وګڼل شو او د هیملاک لرونکي مخلوط د څښلو په واسطه د مرګ په سزا محکوم شو.( ۴)

افلاطون چې د سقراط شاګرد و د جمهوریت په اړه په خپله مقاله کې د سانسور ملاتړ کړی ؤ چې د ولسواکۍ له شتون سره مخالف و. یوناني ډرامه لیکونکي یوریپایډز (۴۸۰ – ۴۰۶ کلونو تر منځ مخکې له میلاد نه) د افلاطون برعکس د آزاد زیږېدونکو نارینه او په آزاده توګه د خبرو کولو له حق څخه دفاع وکړه.

سویډن په ۱۷۶۶ کال کې لومړی هېواد شو چې سانسور یې د قانون په بنسټ لغوه کړ). (5)

سانسور د نامناسبې کړنې په توګه او د پرمختګ پر وړاندې د خنډ کېدو له امله د تاریخ په اوږدو کې تر نیوکې لاندې راغلی. ، ټولنیز تبصره کوونکی مایکل لینډېر په ۱۹۹۷ ز کال کې د انټرنېټ د سانسور په اړه په یوې مقالې کې ادعا وکړه چې سانسور د مولدیت خنډ دی ځکه چې سانسور د دې لامل کیږي چې یوه موضوع له بحث څخه پاتې شي. لیندیر د دې ادعا سره خپل استدلال پراخوي او وایي، هغه څوک چې سانسور پلي کوي باید دا په پام کې ونیسي چې سانسور اړین دی او که نه؛ ځکه هغه کسان چې ځانونه سم ګڼي باید له هغه فرصت څخه چې مخالف لیدلوری کسانو د ردولو لپاره یې لري، هرکلی وکړي. (6)

په ټولنه کې سانسور ډېری د اخلاقي ارزښتونو د پلي کولو لپاره کارول کیږي لکه، د هغو موادو سانسور کې چې فحش ګڼل کیږي. انګریزي ناول لیکوونکی اي ام فورستر د فحش یا غیر اخلاقي موادو د سانسورسخت مخالف و، هغه د اخلاقو د شخصی توب او د اخلاقي ارزښتونو د دوامداره بدلون موضوع راپورته کړه. کله چې د ۱۹۲۹ ز کال د (لیډي چاتلرلي مینه) ناول په ۱۹۶۰ ز کال کې محکمې ته وړاندې شو، فورستر لیکي :

د (لیډي چاتلرلي مینه) اربښتناکه ادبي کار ... زه فکر نه کوم چي دا به فحش وي، خو دلته له دې امله په مشکل کې یم چي زه هېڅکله نه یم توانېدلي چي د فحشا په قانوني تعریف پوه شم. قانون ماته وايي چي فحشاء ممکن یو کس بدلمن او بدنام کړي خو تر هغه ځایه چي زه پوهېږم، دا هیڅ کله د فساد او بدلمنۍ تعریف نشي کېدلی .
د سانسورشویو معلوماتو پلویان هڅه کوي چي د توجیه لپاره يې ببلابېل دلیلونه راوړي:
ښکاره سانسور د جګړې په وخت کې د هغو معلوماتو د خپرېدو مخنیوي لپاره ترسره کېږي چي ممکن دښمن ته ګټور وي. معمولاً په دې کې د وخت یا ځایونو پټ ساتل، یا د معلوماتو خپرولو ځنډول (د مثال په توګه یوه عملیاتي موخه ) تر هغې چي د دښمن د ځواکونو لپاره نور د کارونې وړ نه وي، شامل دي. په دې ډول سانسور کې ډېری اخلاقي مسایل په یو څه توپیرسره لیدل کېږي، ځکه چي د دې ډول سانسور پلویان استدلال کوي چي د تاکتیکي معلوماتو خپرول د ځواکونو ترمنځ د تلفاتو لوی ګواښ را منځ ته کوي او ممکن د جبهې د له لاسه ورکولو لامل شي .
د لومړی نړیوالې جګړې په ترڅ کې د بریتانوي سرتېرو لیکونه باید سانسور شوي وای. په دې کې د افسرانو یو ډله ګمارل شوې وه چي لیکونه يې تور مارکر چک کول او هر هغه شی يې خط وهل چي ممکن د لیک له استولو مخکې د عملیاتو محرمیت له ګواښ سره مخ کړي. د دویمې نړیوالې جګړې شعار "Loose lips sink ships"
د رسمي جګړې پرمهال د سانسور کولو لپاره کارول کېده او یو کس دې ته هڅېده چي د ممکنه حساسو معلوماتو د شریکولو پرمهال پټه خوله پاتې شي .
د "حذف" یوه پالیسي چي د ستالین په وخت کې او په پخواني شوروي اتحاد کې حاکمه وه د هغو خلکو عکس بدلول وو چي د ستالین له خوا په اعدام محکوم شوي وو. که څه هم اصلي انځورونه په یاد پاتې یا پټ ساتل شوي وو، خو د خلکو په ذهنونو کې د تاریخ دا قصدي بدلون د ستالین د مکتب او د هغه وخت د استبداد یو له مهمو تګلارو څخه و.

په درنښت زمری محقق
۲۰۲۳/۱۲/۲۴


: مآخــــــذونــــه او سر چینې
1-  ویکی پیدیا
2-Child Pronography
3-David Goldberg; Stephan G. Verhulst; Tony Prosser (1998). Regulating the Changing Media: A Comparative Study.
Oxford University Press.
4-Debra Nails, A Companion to Greek and Roman Political Thought Chapter 21 – The Trial and Death of (Socrates John Wiley & Sons, 2012
5-"The Long History of Censorship", Mette Newth, Beacon for Freedom of Expression (Norway), 2010
6-Internet Censorship is Absurd and Unconstitutional" Archived 2019-06-29 at the Wayback Machine., Michael Landier, 4 June 1997)
۷ (د بی بی سی د خبرونو پاڼه.)